# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم وبر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Literary-Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
| --- | --- |

محمداسحاق برکت
ویرجینیا ـ امـریکا
۰۱ ـ ۰۳ ـ ۲۰۰۹

# لـــنـــډۍ ـ ۶

سپینه زنـه مـې منـه د سمرقنـد ده راځه
خال مې ایښی دی د وربځو په پیوند دی راځه

کمـیس مـې شین لمن یې برکـه
لکه ګنډۍ نه چې ښامار تاو شوی وینه

مـخ مې آسمـان زلفي مې وربځې
خمارې سترګې مې پرې وکړل بارانونه

مخ مې زیارت خال مې ملنګ دی
دا تورې زلفي مې جنډې باد رپوینه

نـه ښـایسته یمه نـه بـد رنګه
زه غنم رنګ یمه ځوانان رنځورومه

خپـله ځـوانی را پـورې اورشوه
لکه چې د بـــې وسِې نـارې وهمه

څانـګې چې مـاتې شـې وچـــېږې
زلفي چې ماتې شي په مخ جوړ کړي ګلونه

د سیـال سیا لۍ ده ډېـره ګرانـــه
چې څوک سیالي کړي زه مخ پټ کړم وژاړمه

جـانانـه روغ بـه لېـونی شي
چې د اوربل له پاسه کېږدم ژېړګلونه

په خوله دې نوم اخيستَی نه شم
پټې سِلګِۍ دې په ديدن پسې کومه

جـانان کـتل د خيال شـروع کـړه
دزړه په سـر کې مې تازه جوړشو زخمونه

جـانان لـه مـا نه مَـرورِ دی
زه مَـــرورِ د ټول جهان پُخلا کـــومه

تر راتلونکو لنډيو مو په پاک او مهربان خدای سپارم. په درناوي